انجنير سيد عبالقادر

۱۰/۱۱/۱۰

## آيا دولسي جرګي دټاکنو په لوبه کي نا کامه روشنفکره نوماند وکيلان حق لري چي د ا لوبه غير مشروع وبولي !

دا ښکاره حقيقت دي چي تر اشغال لاندي هر دولت يو معلوم الحاله ګوډاګي حاکميت وي ، نو د داسي سياسي حاکميتونوتر نيزو لاندي هر سياسي او اجتماعي تمثيل چي تر هر نامه لاندي مخ ته بيول کيږي ، نه يوازي د هيڅ نوع مشروعيت لرونکي نه وي ، بلکه ددوي ټولي هلي ځلي يوازي او يوازي دخپلوحاکميتونو د بقا او دخلګو دتير وتلو له پاره وي اوبس ۰ ځکه نو دا غير مشروع حاکميتونه په ځينو وختونو کي داسي کوښښ کوي چي داقتصادى لاري نه يعني د ( پيسو په زور ) په دغسي تمثيلي لوبو کي دخلګو يوه معينه کتله هم ور ګډه کړي ، ځکه غواړي چي ددوي د ګډون څخه په ملي او نړيواله کچه باندي يوه سياسي تبليغاتي استفاده وکړي ۰ نو که هر څونه په دغسي سياسي او اجتماعي تمثيلونو کي دخلګو دګډون کچه لوړه وي ، حتى که دا دګډون کچه غير ارادي هم وي ، يعني دپيسو يا دټوپک په زورباندي تر سره سوي او ميډياو ته راوتلي وي ، معلومه خبره ده چي په سياسي او تبليغاتي عرصه کښي ديوه ټاکلي وخت له پاره دهغه حاکميتونو په ګټه باندي تماميږي ۰ چي دداسي لوبو په پايله کي بيا دا دولتونه ونړيوالو ته ځانونه مشروع او ليبرال ښکاره کوي ۰

دپورتنيو عيني واقعيتونو په نظر کي نيولو سره بايد نه يوازي افغاني سياسي ګوندونه چي ملي هدفونه لري بلکه ټول افغان روشنفکران چي دافغانستان اوسني سياسي ، اقتصادي او اجتماعي کړکيچن بحران سخت انديښمن کړي دي ،هغه داچي ، په وطن کي دنهو کلنو په اشغالي بهير کي يرغلګرو دونه بشري او اقتصادي جنايت تر سره کړي دي ، چي په واقعيت کي بي د روسي ځواکونوجنايات تر سايي لاندي راوستلي دي ۰ دمثال په توګه دکندهار ولايت چي داقتصادي پلوه دډيره وخته نيژدي پر د غو ځلورو ولسواليو( ارغنداب ، ژړي ، پنجوايي ، دامان ) باندي تکيه درلودله ، يرغلګرو په دي نهو کلونو کي ددغو ولسواليو خلک دونه وځپل او داسي معلوميږي چي بهرنيو يرغلګرو او کورنيو چارواکو د نړيوالو د شرمه او افغان ولس له ويري نه د دغو ځپل سوو سيمو دبشري او اقتصادي جناياتو د ارزه وني يا لااقل دليدلو او عکس اخيستنو صلاحيتونه هم دبشري حقوقود ادارو او ژور نالستانو څخه اخستي دي ۰ ځکه نو هر څه ناخوالي چي پر دي بي ګناه ولس باندي ددي يرغلګرو او لاس پوڅو له خوا تيريږي نه يوازي نړيوال بلکه دبلي سيمي افغانان هم بايد تر ډيره وخته ځيني نا خبره وي ، چي دانو

دامريکايي او غربي ډموکراسي او ددوي د ظلم يوه ښکاره نمونه ده ۰ دبيلګي په توګه دکندهار ددې وروستنيو جنګي عملياتوچې اوس هم ادامه لري ، په هکله يوازي په ۴ ـ ۱۱ ـ ۲۰۱۰ نيټه باندي درويټر اژانس يوووړوکي خبر خپور کړي او ويلي يي وه ، چې په دې جنګي عملياتو کي د( بمبونو ، راکيټونو، مرميو ، ماينونو ) له امله په سلګونو کورو نه خراب سوي او ډير شمير انسانان دمنځه تللي دي ، ولي دداسي لوي جنګي عملياتوپه هکله چې( ۲۵۰۰۰ ) ۰پوځيانو دعصري ترينو بشر وژونکو سلاحو سره ګډون کړي وي ولي ميدياوو ته يي بيا پسله څو هفتو بمباريو څخه دونه يوکوچني خبر راوزي ، دانو په حقيقت کښي دهغو افغانو له پاره دسرتيټي ځاي دي ، چې وايي افغانستان آزاد او ډموکراسي پکښي شتون لري ۰ اوس نو دداسي بشري او اقتصادي جناياتو دپاي ته رسيدو له پاره د ټولو افغان سياسي ګوندونو او په ځانګړي توګه دهر افغان روشنفکره ايماني او وجداني وظيفه ده چې ژر تر ژره خپل تر منځ دسياسي حل د يوه دقيق ميکانيزم له پاره صلاح او مشوره وکړي ۰ نه داچې ځيني افغان سياسي ګوندونه او روشنفکران داوسني سياسي کړکيچ دحل څخه په ډيره ليري فاصله کي ددې فاسددولت داصلاح له پاره دمختليفو زاويو څخه ږغونه پورته کړي ۰په داسي حال کي چې ددې فاسد رژيم داداري فساد سر دجمهوري رياست دماڼي څخه راوتلي دي ۰ چې په کورنيو او بهرنيو جمعي رسنيو کي هم پوره انعکاس موندلي دي ۰ او د افغان جرمن انلاين ديوي خبرى ليکني په حواله چې په هغه ليکنه کي دافغان دولت دفساد په هکله دمافيايى کړىَ ډير څه رسواسوي ، چې دهغي جملي څخه په ولسي جرګه کي دفساد په هکله داسي مخ ته ځي ، دبيلګي په توګه د ښاغلو ( احدى ، ضرار احمد مقبل ) د وزارتونو چوکيوته رسيدو له پاره احدي دخپل جيب څخه لس ميليونه ډالره او عزيزي بانک دده دکمپاين له پاره ( ۱۵ ) ميليونه ډالره او مقبل هم دخپل ځان له پاره ۲۵ ميليونه ډالره ويوشمير وکيلانو او دهغو رهبريو ته ويشلي دي چې دا ځيني ډالرونه دکانتينينتال هوټل په پيځم پوړ او صافي هوټل کي تقسيم سوي دي ۰ اوس نو سوال داسي پيداکيږي ، که دا دډالرونو ويش حقيقت ونه لري بايد دوي يي سپيناوي غوښتي واي ۰ او که حقيقت ولري نو بيا خبره داده چې دونه ډير ډالرونه دوي دکمي خوا په لاس راوړي دي ۰او په راتلونکي وختونو کي به دوي نور نوي ډالرونه دملي شتمنيو دکوموبرخوڅخه تر لاسه کوي ، چې دا دولس دپاره ډيره دتکان وړ خبره ده ۰ او ددې وخنګ ته ددوي دګوندونواو په مجموع کي دټولو ملي ګوندونو صفوف بايد دخپلو رهبريو شتمني تر برسيو لاندي ونيسي ، چې دکومه يي په لاس راوړي د ه ، او که نه ډير ژربه دا ملي ګوندونه دخپلو رهبريو دنا مشروع کړونو په پايله کي دډيرو بدو ناخوالو سره مخامخ سي چې بيابه يي دتلافي امکانات هم شتون ونه لري ۰ ځکه نوپه جرأت سره ويلايسو چې ددې دولت داصلاح له پاره هر تلاښ دافغان ملي ګټو خلاف يو عمل دي ۰ په واقعيت کښي داسي تلاښونه دافغانستان داوسني سياسي کړکيچني وضع ددقيق تحليل دنه شتون زيږنده بللايسو ۰ ولي زه دداسي روشنفکرانو او سياسي ګوندونو وتلاښونو ته داحترام په درلودلو سره بيا هم دنظر يووالي نه لرم ،داځکه چې ددوي ددې تلاښونوپايله نه يوازي دګوډاګي رژيم د بقا په ګټه تماميږي بلکه د دولت دمصنوعي مشروعيت فيصدي هم ور ډيروي ۰ ځکه نو افغان سياسي ګوندونه اويو شمير روشنفکران دافغان ملي ګټو په نظرکي نيولو سره بايد پخواه لا دغه دولسي جرګي دټاکنوو بي ګټي مصنوعي لوبه دولس په خير تحريم کړي او په بديل کي يي دسياسي حل دميکانيزم وړانديز ونړيوالو ته وړاندي کړي واي ، چې دخلکو له خواه به هم د استقبال وړ ګرځيدلي واي ۰ متاسفانه دولسي جرګي يو شمير نوماند وکيلانو پس له ناکامى څخه دجمعي رسنيو له لاري وويل ، چې په دې ټاکنو کي دخلکو ونډه تر لس فيصده هم ټيټه او دا ټاکني يي غير مشروع وبللي ۰ دبيلګي په توګه دوي داسي وايي چې : دکابل په يوه ډيره امنيتي ساحه کښي چې مکرو ريانونه دي د( ۸۵ زره ) رايو ورکونکو دجملي څخه يوازي ( ۱۱۳۰ ) رايه ورکونکي حاضر سوي دي چې خپله

رايه وكاروي ۰ چې يو نيم فيصد هم نه كيږي نو په نورو بې امنه ساحو كې به ددې ټولټاكنو څه حالت وو۰ او كه د اساسي قانون د زاويه څخه بيا ودې ټاكنو ته نظر واچو و ، معلومه خبره ده چې د اساسي قانون د۷۹ يمې مادې څخه په ښكاره سر لغړونه دا ټاكني مخ ته بيول سوي دي هغه داچې دټولټاكنو نوي قانون دولسي جرګې له لوري نه دوه څله په دوه ثلثه رايه رد كړل سوو ، ولي دجمهور رئس په زور باندې بيا دا ټاكني دهم دې قانون له رويه سرته ورسيدلې ، څكه نود هيڅ نوع مصنوعي مشروعيت لرونكې هم نه دې په داسې حال كې چې دا روشنفكره نوماندوكيلان دجمهوري رياست په دې سر لغړونه پوره اګاه وه ، ولي بيايي هم په دې مصنوعي ټاكنوكي ګډون وكړ ، چې په پايله كې يې دناكامي پاني تر لاسه كړي ۰ په دې لوبه كې تر ناكامي وروسته دا روشنفكرانوديو شمير نورو ناكامه نوماندوسره يو ځاي دجمعي رسنيو له لاري او په دې وروستيو ورځو كې دكابل د ښار په مسلامت آميزه مظاهره كې خپل ږغونه پورته كوي او وايي چې دا انتخابات نه بلكه انتصابات وه ۰ او دادوې خبره ريښتينه او دقيقه هم ده ، ولي ددوي دداسې څرګندونو له پاره ناوخته دې دوې بايد داسې څرګندوني دټاكنو تر لوبې تر مخه كړي واي ، داځكه چې دلاس پوڅي دولت له پاره دپخواه څخه لا دا درغليو څخه ډكي ټاكني يوه طبعي پروسه وه چې پايلي يې بايد هم داسې انتصابات ميدان ته راوړي واي ۰څكه نو دې پايلو شرايط وهغو رد سوو وزيرانو ته چې كرزي صاحب په خپل غيږ كې ساتلي دي ،آماده كړل چې دا ځل به دا رد سوي او په ارګ كې ساتل سوي وزيران په ولسي جرګه كې دهغه پخوانيو څو محدودو روشنفكرو وكيلانو په نه شتون كې به حتى بې له كومې ريښتيني ګوته نيوني څخه په ډيره اساني سره دنامشروع وكيلانو رايه دنا مشروع صلاحيت له پاره تر لاسه كړي ۰ په داسې حالكې چې "كرزي صاحب" څو څله خپله دكابينې وزيران په درغليو باندې متهم كړي ولي بيايي هم په ارګ كښي دځانه سره ټينګ ساتلي چې څوک ودوي كوم مشكل پيدا نه كړي ۰ متاسفانه چې اوس هم ددې واقعيتونو سره سره ځيني افغان سياسي ګوندونه او روشنفكران داسې فكر كوي ، چې بايد موږ په وطن كښي داوسني ډموكراسي څخه دخلګو په ګټه كار واخلو ، څكه نو دجمهورى رياست او ولسي جرګې په مصنوعي ټاكنو كې يې ګډون وكړي ۰اوپه يو شمير سياسي ګوندونو او روشنفكرانو كې دداسې ډول فكرونو شتون په داسې وخت كې ظاهريږي ، چې په واقعيت كې دلته ډموكراسي نه بلكه پر ځاي يې د پردو تر حاكميت لاندې د وطن هره سيمه تر يوه خطرناكې انارشي تر سيوري لاندې راغلي ده ،چې واكمنان غواړي ددې انارشي څخه په خپله ګټه كار واخلي ۰ او ددې وځنګ ته پرغلګروكوښښ كړي دي، چې دډموكراسي تر نامه لاندې افغان جمعي رسني ودې ته وهڅوي چې ددولتي چارواكو په وړاندې دافغان مخكني فرهنګ څخه ليري دځينو توهيني كلماتو استعمال چې اصلاً دا ډيماګو ژيكې ( ولس غولوونكې ) شيوه چې دغربي مطبوعاتو يوه اساسي برخه جوړه وي ۰دلته هم رايجه كړي چې متاسفانه په اوس مهال كې دې غولونكې شيوى زموږ په جمعي رسنيو كې هم د يوه تبليغاتي بازار په څير ځاي نيولي دي ۰چې په پايله كې ولس ته په تيرو نهو كلونو كې هيڅ ډول ګټه هم نه ده رسولي ۰داځكه چې ددغسې ملي ضد حاكميتونو سياست هم داسې وي ، چې ولس ته د دولتي چارواكو په وړاندې د هر ډول خبرو( انتقاد كولو ) آزادي وركوي ولي عملاً حاكميت بيا ددوې پر دغو انتقادونو غوږ نه نيسي ۰ چې نيژدې مثال يې زموږ په وطن كې دګوډاګې حاكميت اوددوې پر نړيوالو پلو يانو باندې دافغان روشنفكرانو او په مجموع كښي دولس هغه پراخ هر اړخيز انتقادونه او وړانديزونه دي ، چې په جمعي رسنيو كې يې هم په پوره كچه انعكاس موندلي دي ، او يا ددولت له خوا څخه دفساد دمنځه وړلو او دعاملينو دمحكمه كولو له پاره څو څله كميسونونه ، څارندوالي اومحكمه جوړه سوې ده ، ولي په عمل كې يې هيڅ ډول ځاي نه دې نيولي ۰برعكس څارندوالى لوړ پوړو متهمو چارواكو ته برائت او كښته متهم مامورين يې محكمه كړي چې ځينو بې واسيطو يې بيا جزا ليدلي ده ۰

اوس نوداسي سوال پيدا کيږي ، چې په اوس مهال کي داسي ادعا کولايسو چې ووايو په افغانستان کي يو مشروع دولت او دموکراسي شتون لري ، هغه هم بيا داشغال تر بيرغ لاندي ؟ دانو په واقعيت کي خواب است ، مهال است وجنون ٠متاسفانه چې زموږ يو شمير روشنفکران دمختليفو عواملو له کبله دخپل نظر اظهار هم داسي کوي ٠چې په حقيقت کي دموکراسي بايد داډول تعبيراوتفسير نه سي ، دا ځکه چې د دموکراسي اصلي معنا او سياسي مفهوم دادي چې ( دخلګو حکومت دخلګو له خواه پر خلګو باندي ) ٠ ولي په افغانستان کي ( دپردو حکومت دپردو له خواه پر خلګو باندي ) مخ ته بيول کيږي ٠ چې په دې حالت کي په هيڅ ډول داسي قضاوت کيدلاي نه سي چې ووايي په افغانستان کي دموکراسي شتون لري او يا په لومړنيو مرحلو کي قرار لري ٠دا ځکه چې دحاکميت واکمنانو د بهرنيو حاميانوپه لار ښوونه دنهو کلونو په درشل کي دخلګو او روشنفکرانو د هر ډول قانوني غوښتنو او مسالمت اميزه مظاهرو په وړاندي هر وخت سخت غبر ګونونه ښکاره کړي دي ٠ چې لومړي ځل يې په انتقالي دوره کښي د کابل پوهنتون دليليې د محصلينو هغه مسالمت اميزه مظاهره وه چې دخپلو قانوني غوښتنو له پاره ( دېوډې دپوره استحقاق او دبرق ) غوښتنه پکښي انعکاس کړي وه ٠ ولي دحاکميت له خواه يې په غبرګون کښي څلور پاک محصلين شهيدان او ډير شمير يې زخميان او مظاهره يې ور ګډه وډه کړله ٠ دا واکمنو ددې له پاره دقهر څخه ډک غبرګون دمحصلينو په وړاندي ښکاره کړ، چې په راتلوونکو وختونو کي نور خلګ وبيروي اوبيا ځوک دحاکميت په وړاندي دکومو غوښتنو طرح ونه کړي ٠ داووپه وطن کښي دراغلي غربي دموکراسي يو کوچني مثال ٠ځکه نو دپخواني سوسيالستي اردوګا په شتون کښي داسي پر عينيت باندي ولاړه يوه توکه ميدان ته راوتلي وه ٠ چې په سوسيالستي ټولنه کي هر څه چې غواړي وې غواړه ، ولي وايه څه مه ٠ په سرمايه داري ټولنه کي هرڅه چې وايه وې وايه ولي غواړه څه مه ٠ چې دا واقعيت نن موږ په خپلو سترګو باندي په خپل وطن کي وينو دا ځکه چې زموږ وطن هم دغربي نړي تر يرغل لاندي شپي او ورځي تيروي ٠ او پورتني توکه کټ مټ په اوس مهال کي زموږ وطن کي صدق کوي ٠

دپورتنيو واقعيتونو په نظر کي نيولو سره بايد ووايو چې دافغان ولس هيله د افغان ملي ګوندونو او روشنفکرانو څخه داده چې دملي ګټو په نظر کي نيولو سره دافغانستان داوسني کړکيچ دژر تر ژره دسياسي حل له پاره خپل ږغونه پورته او دسياسي حل دميکانيزم په اړوند خپل تر منځ تفاهم تر سره او افغان اوسني تراجدي ته دپاي ټکي دايښوولو له پاره دسياسي حل دطرحي وړانديز دجنګ دواړو خواوو او ملګرو ملتونو ته وړاندي کړي ٠ چې بې له سياسي حل څخه نور هر ډول وړانديزونه ديرغل تر بيرغ لاندي دولس په ګټه نه بلکه داتراژيدي به نوره هم اوږده وي ٠ ځکه نو دډير دقت او ولس پالني په روحيه کي بايد ددې تراژيدي پروسي دپاي ته رسيدو له پاره بې له ځنده هلي ځلي وسي ٠

اخځ : لراو بر پاڼه ٠

تمت باالخير

***يادداشت:***

*باعرض حرمت خدمت همکار گرامی ما آقای "انجنير صاحب"، بايد به عرض برسانيم که از نظر ما احزابی که خود را در يک ادارۀ مستعمراتی رجستر رسمی نموده و در چوکات قوانين حاکم بخواهند فعاليت نمايند، چون نفس عمل شان به رسميت شناختن ادارۀ مستعمراتی و مشروعيت اشغال را می رساند، لذا هيچگونه صبغۀ ملی نداشته و بايد همه را به مثابه مزدوران استعمار به شمار آورد*

*اداره پورتال AA-AA*